د افغانستان اسلامي امارت

**لوړو زده کړو وزارت**

**میـــدان وردگ ولایـــت**

**وردگ پـــــوهنــــتون**

**علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**ښـــــوونې او روزنــــې پوهنځی**

**د ستراتیژیک پلان د تدوین او څار کمېټه**

# دښوونې او روزنې پوهنځی د ۱۴۰۵-۱۴۰۹ پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان لنډیز



**کال: ۱۴۰۵ هـ . ل**




VECDL.com

# د موضوعاتو لړلیک

**عنوان** **صفحه**


**دښوونې او رزونې پوهنځی د رئیس پیغام** ........ ۲

**د ښوونې او روزنې پوهنځی د اوږدمهاله ستراتیژیک پلان چارچوب** ........ ۳

**ښوونې او روزنې پوهنځي پنځه کلن اوږدمهاله (ستراتیژیک) پلان** ........ ٤

**سریزه** ........ ٤

**موخه او ځېړنیزه تګلاره** ........ ٤

**د ښوونې او روزنې پوهنځي تشکیلاتي جوړښت** ........ ۴

**د پوهنځي د چاپېریال د داخلي او د بیروني عواملو مقایسه** ........ ۵

**(IE)تګلاره** ........ ۵

**د IE Matrix ۹ خانې** ........ ۶

**د داخلي او بیروني (IE) ګراف** ........ ۷

**موندنې او ستراتیژیک وضعیت** ........ ۸

**ستراتیژیکې محوره او د پلي کېدو لومړیتوبونه** ........ ۹

**عمومي پایله** ........ ۱۰

## دښوونې او رزونې پوهنځی د رئیس پیغام

د ښوونې او روزنې پوهنځی د ۱۳۹۸ هـ. ش کال په لومړیو کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا د وردگ پوهنتون په چوکاټ کې د «ښوونې او روزنې پوهنځي» په نوم منظور او په ډېرو لږو امکاناتو یې خپل فعالیت پیل کړ. دغه پوهنځی د فعالیت په لومړیو پړاوونو کې له گڼو ننگونو او محدودیتونو سره مخ و، چې له مهمو هغو څخه یې د رسمي استادانو کمښت، د معیاري ودانۍ نشتوالی او د ځانگړې بودجې نه شتون یادولای شو. سره له دې ټولو محدودیتونو، د ښوونې او روزنې پوهنځي ادارې د وردگ پوهنتون د رهبرۍ په همکارۍ، ملاتړ او ځانگړې پاملرنې سره خپلو علمي، اداري او اکاډمیکو فعالیتونو ته دوام ورکړ.

د پورتنیو لوړو ژورو او شته ننگونو سره سره، د ښوونې او روزنې پوهنځي رهبري شورا پر دې باور وه چې د امارت د فرهنگي پالیسۍ، د پوهنتون د داخلي انکشافي ستراتیژۍ، د لوړو زده کړو وزارت د اوږدمهاله ستراتیژیک پلان او اړوندو پالیسو او تگلارو په رڼا کې به هر اړخیزې او دوامدارې هڅې ترسره کړي، څو د ښوونې او روزنې پوهنځی د هېواد په کچه له ورته پوهنځیو سره د سیالۍ وړ، معیاري او علمي پوهنځی وگرځي.

د پوهنځي اداره هڅه کوي چې د لوړو زده کړو وزارت د نافذه طرزالعملونو، لوایحو او علمي معیارونو پر بنسټ د پوهنځي د روښانه راتلونکي او اړینو پرمختیایي فعالیتونو د تنظیم او پلي کولو لپاره یو هر اړخیز اوږدمهاله ستراتیژیک پلان طرحه او تدوین کړي. دغه ستراتیژیک پلان د پوهنځي د موجوده اړتیاوو، لومړیتوبونو، شته امکاناتو او انکشافي اړتیاوو پر بنسټ برابر شوی، چې له بشپړېدو وروسته به د بحث، ارزونې او تأیید په موخه د پوهنتون ستراتیژیک پلان کمېټې او د پوهنتون علمي شورا ته وړاندې شي.

دغه ستراتیژیک پلان په داسې ډول طرحه او تدوین شوی دی چې د پوهنځي په داخلي چاپېریال کې یې د تطبیق امکانات موجود وي او د راتلونکو اوږدمهالو فعالیتونو د منظم پرمختگ، اصلاح، پیاوړتیا او روښانه لیدلوري لپاره لازم بنسټونه برابر کړي. د دغه پنځه‌کلن ستراتیژیک پلان په رڼا کې به د ښوونې او روزنې پوهنځي راتلونکي پنځه‌کلن فعالیتونه د ټاکل شویو موخو، لومړیتوبونو او عملي کړنلارو له مخې په منظم ډول او پر ټاکلي وخت ترسره کېږي.

دغه اوږدمهاله ستراتیژیک پلان د پوهنځي د ریاست، څانگو او اړوندو برخو اړتیاوو او لومړیتوبونو ته په کتو سره ترتیب شوی دی. په دې پلان کې د علمي او څېړنیزو فعالیتونو پیاوړتیا، د عوایدو د ترلاسه کولو او د عایداتي سرچینو د رامنځته کولو هڅې، د ټولنې په پرمختگ کې د پوهنځي اغېزمنه ونډه، له ملي او نړیوالو علمي او اکاډمیکو فعالیتونو سره همغږي، او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ اړوند برخو ته ځانگړې پاملرنه شوې ده. د دغو فعالیتونو په منظم او اغېزمن تطبیق سره به د پوهنځي علمي، اداري او انکشافي فعالیتونه د لا مثبت پرمختگ پر لور سوق شي او د کیفیت د لوړوالي لپاره به لازم زمینه برابره شي.

په پای کې، د خپل زحمت‌کښ او ژمن ټیم، په ځانگړي ډول د ستراتیژیک پلان د کمېټې له ټولو درنو غړو څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې د دغه پلان د طرحې، ترتیب او تدوین په بهیر کې یې په پوره اخلاص، ژمنتیا او نه ستړې کېدونکو هڅو سره ونډه اخیستې ده. له لوی خدای (ج) څخه ورته په دواړو دارینو کې د اجر عظیم، بریا، نېکمرغۍ او لا زیاتو علمي او مسلکي توفیقونو غوښتنه کوم.


**په درنښت**

**پوهندوی عبدالقدیر جلالي**

**د ښوونې او روزنې پوهنځي رئیس**

## د ښوونې او روزنې پوهنځی د اوږدمهاله  ستراتیژیک پلان چارچوب

### د وړاندیز لومړنی ماډل



# ښوونې او روزنې پوهنځي پنځه کلن اوږدمهاله (ستراتیژیک) پلان


## سریزه

د لوړو زده‌کړو په ډګر کې چټک بدلونونه، د کیفیت د لوړولو اړتیا، د ډیجیټلي زده‌کړې پراختیا، د محصلانو د خدمتونو غوښتنې او د سرچینو محدودیتونه پوهنتونونه دې ته اړ باسي چې خپلې چارې د روښانه، عملي او ارزونې وړ ستراتیژیکو پلانونو پر بنسټ تنظیم کړي. د وردګو پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره د پنځه کلن ستراتیژیک پلان جوړول له همدې اړتیا څخه سرچینه اخلي. دغه پلان د پوهنځي د اوسني وضعیت د ارزونې، د راتلونکو فرصتونو د تشخیص او د موجودو ستونزو د حل لپاره یو منظم چوکاټ وړاندې کوي. پوهنځی په ۱۳۹۸ کال کې تأسیس شوی، څلور څانګې لري، نږدې **۲۹۷** محصلان او **۲۳** علمي کارکوونکي پکې فعالیت کوي. له همدې امله، د دې پوهنځي د ظرفیتونو پیاوړتیا او د پراختیا لپاره اوږدمهاله او واقعي لارښود ته اړتیا څرګنده ده.

## موخه او څېړنیزه تګلاره

د دې پلان اساسي موخه د وردګو پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره د داسې پنځه کلن ستراتیژیک چوکاټ رامنځته کول دي چې د تدریس کیفیت، علمي څېړنې، محصل‌محور خدمتونو، اداري اغېزمنتیا، ډیجیټلي زده‌کړې او فزیکي زیربناوو د پیاوړتیا زمینه برابره کړي. د پلان د جوړولو لپاره د پوهنځي داخلي او بهرني چاپېریالونه تحلیل شوي او د قوتونو، کمزوریو، فرصتونو او ګواښونو پر بنسټ SWOT تحلیل ترسره شوی. وروسته د داخلي عواملو د ارزونې جدول(IFE) ، د بهرنیو عواملو د ارزونې جدول(EFE) ، د داخلي ـ بهرني ماتریس (IE Matrix) او د کمیتي ستراتیژیکو بدیلو د ارزونې جدول (QSPM) کارول شوي دي. د دغو تحلیلي وسایلو موخه دا وه چې د پوهنځي واقعي وضعیت په منظم ډول وارزول شي او د لومړیتوب وړ ستراتیژۍ وټاکل شي.

# د ښووني او روزني پوهنځي تشکيلاتي جوړښت



جدول (۵) د څانګو په تفکیک سره د راتلونکو پنځه کلونو لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځي د جذب، فارغ او برحاله محصلینو جدول

| ګڼه | پوهنځی | اوسنی حالت | ۱۴۰۵ | | | ۱۴۰۶ | | | ۱۴۰۷ | | | ۱۴۰۸ | | | ۱۴۰۹ | | | ملا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | جذب | فارغ | برحال | جذب | فارغ | برحال | جذب | فارغ | برحال | جذب | فارغ | برحال | جذب | فارغ | برحال | |
| ۱ | د ښوونې او روزنې پوهنځی | ۲۸۳ | ۳۲۰ | ۴۶ | ۵۵۷ | ۳۲۰ | ۳۷ | ۸۴۰ | ۳۷۰ | ۶۰ | ۱۱۵۰ | ۴۲۰ | ۱۰۹ | ۱۴۶۱ | ۴۲۰ | ۳۲۰ | ۱۵۶۱ | |
| مجموعه | | | ۳۲۰ | ۴۶ | ۵۵۷ | ۳۲۰ | ۳۷ | ۸۴۰ | ۳۷۰ | ۶۰ | ۱۱۵ | ۴۲۰ | ۱۰۹ | ۱۱۴۶ | ۴۲۰ | ۳۲۰ | ۱۵۶۱ | |

**د ښوونې او روزنې پوهنځي د څانګو په تفکیک سره د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د استادانو د استخدام او ظرفیت لوړونې پلان**

| شماره | پوهنځی | څانګې | نوی څانګې | اوسنی حالت | | | ۱۴۰۵ | | | ۱۴۰۶ | | | ۱۴۰۷ | | | ۱۴۰۸ | | | ۱۴۰۹ | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | تعداد | ماستر | دوکتور | تعداد | ماستر | دوکتور | تعداد | ماستر | دوکتور | تعداد | ماستر | دوکتور | تعداد | ماستر | دوکتور | تعداد | ماستر | دوکتور | |
| ۲ | د ښوونې او روزنې پوهنځی | ریاضي | | ۸ | ۴ | ۰ | ۸ | ۱ | ۰ | ۸ | ۰ | ۰ | ۸ | ۰ | ۱ | ۸ | ۰ | ۱ | ۸ | ۰ | ۰ | |
| | | فزیک | | ۶ | ۲ | | ۶ | ۰ | | ۶ | ۰ | ۱ | ۶ | ۰ | ۱ | ۶ | ۰ | ۰ | ۶ | ۰ | ۰ | |
| | | کیمیا | | ۵ | ۰ | ۰ | ۵ | ۱ | ۰ | ۶ | ۱ | ۰ | ۷ | ۱ | ۰ | ۸ | ۲ | ۰ | ۸ | ۳ | ۰ | |
| | | بیولوژي | | ۴ | ۲ | ۰ | ۵ | ۱ | ۰ | ۶ | ۰ | ۱ | ۶ | ۱ | ۰ | ۶ | ۰ | ۰ | ۶ | ۰ | ۱ | |
| | | | انګلیسي | | | | | | | ۴ | ۰ | ۰ | ۴ | ۱ | ۰ | ۴ | ۰ | ۰ | ۵ | ۲ | ۰ | |
| | | | پیداګوژي | | | | | | | | | | ۴ | ۰ | ۰ | ۴ | ۱ | ۰ | ۵ | ۱ | ۰ | |
| | | | پښتو | | | | | | | | | | | | | ۴ | ۰ | ۰ | ۵ | ۲ | ۰ | |

## د پوهنځي د چاپېريال د داخلي او د بيروني عواملو مقايسه

په دې برخه کې د چاپېريال د داخلي او د بيروني عواملو څخه په استفاده سره د سوات (SWOT) او همدارنګه د چاپېريال د داخلي او د بيروني عواملو (IE) مېټرېکس له مخې تطبيق کېږي، چې د پوهنځي د تعيين شوي تګلارې (ستراتيژۍ)، د پوهنځي د مديريت او د چاپېريال د داخلي او بيروني عواملو سره مطابقت لري، چې د (IE) مېتود څخه استفاده کېږي.

**تګلاره (IE)**

د داخلي او بيروني عواملو د هممهاله تجزيې او تحليل لپاره د داخلي او بيروني عواملو (IE) مېټرېکس په نوم يو ابزار کارول کېږي. دغه مېټرېکس د تحصيلي نهاد د موقعيت حالت د ټاکلو لپاره اساسي دی. دغه مېټرېکس د جوړولو لپاره بايد د داخلي او بيروني عواملو مېټرېکس څخه په لاس راغلي نمرې د دغه مېټرېکس په افقي او عمودي ابعادو کې ځای پر ځای شي، تر څو د تحصيلي نهاد موقعيت د دغه مېټرېکس په خانه کې روښانه شي، او پر همدې اساس مناسبه تګلاره (ستراتيژي) د تحصيلي نهاد لپاره وټاکل شي.

د داخلي او بيروني مېټرېکس په جوړښت کې نهه کورونه ځای پر ځای شوي، په دغه مېټرېکس کې هر نهاد خپل ځای په مېټرېکس کې خپلوي.

- **د IFE (داخلي عواملو) وزني ضريب = ۱,۰۰**
- **د IFE موزون ضريب ۲,۷۱ = (Weighted Score)**

او

- **د EFE (بهرنيو عواملو) وزني ضريب = ۱,۰۰**
- **د EFE موزون ضريب ۳,۱۲ = (Weighted Score)**

نو د **IE Matrix** له مخې د ښوونې او روزنې پوهنځي موقعيت داسې دی:


| ستراتيژي | د IE Matrix موقعيت | د داخلي عواملو (IFE) نمره | د بهرنيو عواملو (EFE) نمره |
|---|---|---|---|
| **د ودې او پراختيا ستراتيژي (Grow and Build)** | **دوهمه خانه(Cell II)** | (۲,۷۱) منځنۍ | ۳,۱۲ لوړه |


**د IE Matrix ۹ خانې**

| EFE \ IFE | ۱,۰–۱,۹۹ | ۲,۰–۲,۹۹ | ۳,۰–٤,۰ |
|---|---|---|---|
| ۳,۰–٤,۰ | I | **II ✓** | III |
| ۲,۰–۲,۹۹ | IV | V | VI |
| ۱,۰–۱,۹۹ | VII | VIII | IX |

د ښوونې او روزنې پوهنځی په دوهمه (II) خانه کې قرار لري.

**د داخلي او بيروني (IE) گراف**




د داخلي او خارجي وضعیت د تحلیل په موخه، هغه پوښتنپاڼې چې د باخبره او متخصصو کسانو له‌خوا په دقت سره ډکې شوې وې، د هغوی د امتیازاتو د احصایې او محاسبې له لارې د ښوونې او روزنې پوهنځي ستراتېژیک موقعیت تشخیص شوی دی. د لاسته راوړل شوو پایلو پر بنسټ، د پوهنځي موقعیت د داخلي او خارجي فکتورونو په نه‌خونو (Nine-Cell Matrix)ستراتېژیک ماتریکس کې څرګند شوی، چې د لاندې ډول تفسیر وړ دی: که د محاسبوي نمرو له مخې د پوهنځي موقعیت په VI، IIIیا II **برخې** کې ځای پر ځای شي، دا د پوهنځي د **ودې او پرمختګ** (Growth and Development)ستراتېژیک وضعیت څرګندوي؛ که د IX، Vیا I **برخې** کې راشي، نو دا د **ساتنې او ثبات** (Stability or Maintenance) ستراتېژیو استازیتوب کوي؛ او که د VIII، VIIیا IV **برخ** کې موقعیت ولري، دا د **دفاعي او کمولو** (Defensive or Retrenchment) ستراتېژیو نښه ده. د ترلاسه شوو امتیازونو پر بنسټ، د ښوونې او روزنې پوهنځی په VIاو III **خونو** کې ځای لري، چې دا د یاد پوهنځي د **ودې او پرمختګ ستراتېژیک حالت** څرګندوي. دغه موقعیت د دې ښکارندوی دی چې پوهنځی د خپلو داخلي وړتیاوو او بهرنیو فرصتونو په اغېزمنه توګه د کارولو له لارې د مثبت بدلون، نوښت، او دوامدار پرمختګ ظرفیت لري

په څلور خانه یی مټریکس کې د لاندې جدول مطابق دغه نمرې په دوه برخه ییزو رنګو قوي (۲،۵-۴) او ضعیف (۱-۲،۵) کې تعیین کیږي.

د داخلي او بیروني (IE) څلورخانه یې روش په مرسته د پوهنځي اوسنی موقعیت.



**موندنې او ستراتيژيک وضعيت**

تحليل ښيي چې پوهنځی يو شمېر مهم قوتونه لري؛ له هغو څخه د موجودو څانګو فعاليت، د علمي کادر شتون، د زده‌کړو د وړاندې کولو بنسټيز ظرفيت او د پوهنتون له اداري جوړښت سره تړاو يادولای شو. په مقابل کې، د علمي او څېړنيزو فعاليتونو محدوديت، د ډيجيټلي زده‌کړو کمزوری ملاتړ، د محصلانو د خدمتونو نيمګړتياوې، د زيربناوو کمښت او د منظمې څارنې او ارزونې اړتيا د مهمو کمزوريو په توګه څرګندېږي. د لوړو زده‌کړو د پراختيا، د ټکنالوژۍ د کارونې او د علمي همکاريو زياتېدو فرصتونه شته؛ خو د مالي سرچينو محدوديت، د مسلکي کادر د ساتنې ستونزې او د چاپېريال بدلونونه د پام وړ ګواښونه جوړوي.

د IFE نمره ۲,۷۱ ښيي چې پوهنځی د خپلو داخلي قوتونو او کمزوريو په مديريت کې د منځنۍ کچې وړتيا لري. د EFEنمره ۳,۱۲ څرګندوي چې پوهنځی له بهرنيو فرصتونو څخه د ګټې اخيستنې او د ګواښونو د مديريت لپاره نسبتاً مناسب وضعيت لري. د IE Matrix پايله پوهنځی په دويمه خانه کې ځای پر ځای کوي چې د ”Grow and Build“ يا ودې او جوړونې ستراتيژيکه پايله وړاندې کوي. دا وضعيت د پراختيا، کيفيت لوړونې، ظرفيت جوړونې او هدفمندې پانګونې اړتيا تأييدوي.

**ستراتيژيکې محوره او د پلي کېدو لومړيتوبونه**

د پلان ستراتيژيک جهت په څلورو اساسي محورو ولاړ دی. لومړۍ محوره، **حکومتولي او رهبري**، د شفافې پرېکړې‌نيونې، مسؤليت‌پذيرۍ، مشارکتي مديريت، د اداري ظرفيت لوړولو او د منظمې څارنې او ارزونې پر پياوړتيا تمرکز کوي. دويمه محوره، **علمي پروګرامونه**، د نصاب د بياکتنې، د تدريس د کيفيت لوړولو، د علمي کادر د مسلکي پرمختګ، د څېړنې د پراختيا او د زده‌کړې د نوې ټکنالوژۍ د ادغام غوښتنه کوي. درېيمه محوره، **خدمتونه**، د محصلانو د لارښوونې، مشورې، علمي ملاتړ، ډيجيټلي خدمتونو او د محصل‌محورې زده‌کړې د پياوړتيا لپاره طرحه شوې ده. څلورمه محوره، **زيربناوې**، د درسي چاپېريال، کتابتون، لابراتوارونو، معلوماتي ټکنالوژۍ او نورو اړينو فزيکي امکاناتو د پراختيا پر اړتيا ټينګار کوي.

د پلان پلي کول بايد د کلنيو عملياتي پلانونو له لارې ترسره شي. هره ستراتيژيکه موخه بايد له مشخصو فعاليتونو، مسؤلو واحدونو، مهال‌وېش، اړينې بودجې او د پايلو له شاخصونو سره وتړل شي. بودجه بايد د لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم شي او د سرچينو د محدوديت په شرايطو کې د اغېزمن استعمال لپاره منظم مالي مديريت رامنځته شي. همدارنګه، د پرمختګ دوامداره څارنه، دوره‌يي ارزونه او د پايلو مستندسازي ضروري دي. که د پلي کېدو پر مهال ستونزې يا انحرافات رامنځته شي، بايد د اصلاحي اقداماتو له لارې د پلان فعاليتونه بيا تنظيم شي.

## عمومي پایله

د ښوونې او روزنې پوهنځي پنځه کلن ستراتیژیک پلان د پوهنځي د اوسني وضعیت د تحلیل او د راتلونکو اړتیاوو د اټکل پر بنسټ د ودې او جوړونې روښانه لورى ټاکي. د IFE نمره ۲,۷۱، د EFE نمره ۳,۱۲او د IE Matrix د دویمې خانې پایله څرګندوي چې پوهنځی د پراختیا لپاره بنسټیز ظرفیت لري، خو د کیفیت، څېړنې، ډیجیټلي زده‌کړې، محصل‌خدمتونو، حکومتولۍ او زیربناوو په برخو کې هدفمندې هڅې ته اړتیا لري. د څلورو ستراتیژیکو محورو منظم پلي کول، د کلنیو عملیاتي پلانونو، بودجې، څارنې، ارزونې او اصلاحي اقداماتو له لارې، تمه ده چې د تدریس کیفیت لوړ کړي، څېړنیز فعالیتونه پیاوړي کړي، ډیجیټلي زده‌کړه پراخه کړي، د محصلانو خدمتونه ښه کړي، اداري حکومتولي اغېزمنه کړي او د پوهنځي فزیکي زیربناوې ورغوي.